# لیك دود او د اِملا ځینې مسائل

نصرالله وزیر، نور محمد دانش بېټنی

**Abstract**

There is no language in the world which is free of any mistake in regard of its scripts. The same is true about Pashto language and scripts. It has also the same problems. In this article, those problems, defects, drawbacks have been pointed out which is hurdles in the way of the writers. Moreover, those defects have also been discussed which is closely related to Pashto language. The article includes in detail, introduction of same special words of Pashto, is usages as will as writing.

په نړۍ کښې به دغسې کومه ژبه نهٔ وي چې د هغې اِملا او لیك دود دې یو ډول غښتلے او له نیمګړتیاو ځنې پاك وي، په دغه څېر پښتو ژبه هم په لیك دود او د اِملا په کښنه کښې ځینې مسائل لري، هم په دغه مقاله کښې هاغه مسائل چې په ژبو کښې د اِملا او د لیك دود په اړه رامخته کښېږي، په نخښه کړل شوي دي. پرته له دې د پښتو ژبې په داخلي چوکاټ ځینې هغه مسائل چې له خپلو ګاونډیو ژبو سره په توپیر کښې وقعت لري، هم د دې مقالې په بحثونو کښې شامل کړل شوي دي. دغه مقاله په ځانګړي ډول د پښتو مخصوص حروفوپه پېژندنه او د هغوي د اِستعمال ځینې خاص طرزِ اِستعمال په اړه یو په زړهٔ پورې بحث کوي او د پښتو اِملا ځینې خاص تېروتنو ته ګوت نیونه په کښې شوې ده.

که د اِنسانانو په دې ورکوټې غوندې نړۍ یو نظر واچولے شي نو په دې کښې اِنسانان په بیله بیلو خطو کښې په څو رنګونو، په مختلف مذهبونو، جلاجلانسلونو او د ډېرو ژبو په بنیاد له یو بل څخه په توپیر ښودل شوي. مګر د دې هر څهٔ پرته هغه څهٔ چې کُلهم اِنسانیت په یوه کړۍ سرتړي، هغه د اِنسان له خُلې راوتونکي هغه غږونه دي چې یواځې انسان د خپل مزاج او طبعیت مطابق د هغو د ادائیګۍ اهلیت یو رنګه د اِنسان په سرّشت کښې اچول شوے. دغه فطري ورکړه د اِنسان په فطري ژوند کښې هاغه یواځینے آله ده چې له کبله ئې نهٔ یواځې

د اِنسان پېژندګلوي مُمکنه شوې ده بلکښې تر اوسه د اِنساني ترقۍ د معراج يو مُهمه ذرئعه هم ګڼل شوې ده. ځکه:

ژباړه : ''غږېدن د انسان ټوليزفطرت، ساز او سنګت ورلره د ژوند همېشنۍ جذبه او د ژبې اِيجاد ئې دجذباتو د تسکين عملي پهلو ده. قدرت انسان لره د ګويائي غوره زرائع وربخښلې دي او د مځکښې په مختلفو خطو کښې اباد انسانانو د غږ او غيږ (ژغ او ژيغ ) له عالِم څخه ورلره اوازونه را چهاڼ کړي او ترې ئې د خپلو ژبواساسات برابر کړي. بيا ئې ورپسې د غږونو له رېګ او سيمنټ څخه د توريو ښتې تهاپلې او پټې ئې تر جوړې کړئې، دېوالونه او متې (ستنې يا ستون ) اودرولي، چهتونه ئې پر اچولي او د پلاټ متناسب او متوازن تقسيم او د ډيزائن رنګينۍ او زړۀ وړتوب په کمالاتو سره ئې د ژبې يو لوئ عالي شان محل اودرولو، خود ژبې يواځينے اساس غږ وګرځولے شو''. [1]

که څۀ هم اِنسان دخپل مافي الضميرد اظهارپه وخت د ژبې (اصواتو) په اِستعمال قدرت لرلو پرته ځينې نورې ذرائع هم په کار راولي مګر د هغو په نسبت صوت يا غږ ته بيا يو څو چنده زيات فضيلت په دې حاصل دے چې قُدرت صرف او صرف يواځې اِنسان ته د دې اِستعداد وربخښلے چې هغه دې د خپلې مرضۍ او منشا په مطابق د اصواتواِستعمال په داسې فطري بڼه وکړے شي څۀ ډول چې هغه خپل د داخلي کيفيت مُطابق ادا کول غواړي. خو دا ياد ساتل په کار دي چې:

ژباړه : '' د ژبې بنيادي اوازونه د حاضر او موجود د پاره اِيجاد شوي دي او د رسمُ الخط تحريري علامات له سترګو پناه خلقو د پاره وضع کړل شوي دي'' . [2]

دغه رازد صوت يا غږ سره سره د حرف اهميت هم نظرانداز کښېدلے نۀ شي، ځکه چې حرفونه کوم چې د اصواتو علامتونه ټاکل شوي، چېرته هم چې په کومه ژبه کښې څومره قدر مُنظم او مربوط طريقې سره پېرل شوي وي، هلته به د دې له کبله نۀ يواځې د توريو په ادائيګۍ کښې اساني پيدا کښېږي بل کښې د هغوئ معني او مفهوم به هم زر په ذهن کښې نقش جوړوي.

د رسمُ الخط په دود کښې په کار خو دا وه چې څومره د يوې ژبې بنيادي اصوات وي هم په هاغه اساس ورله دغومره اصوات هم ټاکل شوي وے. مګر په لسانياتو کښې کله هم داسې مُمکنه نۀ ده،ځکه چې ډېرې ژبې داسې دي چې د هغو حروف کم او اصوات ئې زيات دي (لکه د مثال په توګه په همسايه ژبو کښې بلوچي،چترالي، کوهستاني او په نورو اريائي ژبو کښې انګرېزي، لاطيني او ځينې نورې )، هسې خو په دنيا کښې په زرهاؤ ژبې وئيلے شي، مګر د ژبو د تعداد په مُناسبت د دې د ليك دود شمار په هغه انداز ورله نۀ دي جوړ کړل شوي، په کوم حساب چې په نړۍ کښې ژبې دي. کښېدے شي د دې بنيادي

وجه دغه وي چې:

ژباړه : '' اوازونه په حروفو کښې بندول کوم دومره مُشکل کار نۀ وي لکه څومره قدر له حروفو څخه د هغوئ سعي سلامت را ایستل، ولې چې په رسمُ الخط کښې د تېر وتنې تاوان د کښونکي په نسبت د لوستونکي په سر ور پرېوځي''. [3]

لهٰذا لیك دود یوه واسطه ده د اصواتو یا غږونو په مُجسم کالبوت کښې د اچولواو له ځان نه لرې د نورو سره د ربط پیدا کولو، د خپلو ائنداؤ د پاره د اسلافوورثه محفُظولو او د علم د ترسیل او حصول هر چا د پاره د مُمکن جوړولو.

اِنسان په خپل ټولنیز ژوند کښې یو بل ته دخپل مدعا رسولو او یا د خپل اِظهار وړاندې کولوپه تکل کښې په زرهاؤ ژبې اِختیار کړې دي چې له هغو څخه ډېرې ژبې داسې دي چې د حروفو د ساخت او لیك دود د انداز په توګه له یوې بلې څخه په لویه کچه توپیر لري. مګریوه ژبه هم دغسې نۀ ده لیدے شوے چې د هغې لیك دود دې له اِبتدا څخه په یو طرز راغلے وي. ځکه چې تغیر د زمانې دود دے او هم په دغه تغیر کښې د د نیا د بقا راز خوندي دے، دوام او تل پاتې کښېدنه یواځې هغه واحد ذات د پاره مُختص دے چې همېشه قائم او دائم دے. د اِنسانانوتر منځه ربط د الفاظود تبادلې په ذریعه کښېدلې شي، بیا کله چې توري له یو ځاے څخه بل ځاے پورې سفر کوي نو زیاتره داسې کښېږي چې هلته دا توري بیا په هغه په خواني خبر نۀ پاتې کښېږي، بل کښې څۀ نه څۀ اوښتون (تغیر) په کښې راغلے وي . دغه دود د یوې ژبې په اِملا کښې هم دغه نمونه مسائل هغه وخت را پورته کښېږي کله چې په هغه کښې دنورو ژبو توري ځاے و نیسي او د هغې ځینې توري د څۀ لږ وخت د پاره او یا په مُستقله توګه له منځه لاړ شي. نو هغه توري چې له یوې ژبې څخه بله ژبه ته و پورول شي په دې نوې ژبه کښې یو څۀ قدر کړکښېچونه را منځته کوي. مګر په یوه ژبه کښې د کومو نویو توریو د رانټولولو یا د هغه ژبې په داخلي ساخت کښې واقع کښېدونکي لساني تغیراتوله کبله د دې خبرې اشد ضرورت محسوسولې شي چې دا د توریو پورول او د ژبې په داخلي ساخت کښې اوښتون هر مهال جاري وي ځکه چې دا د یوې ژوندۍ اوفعاله ژبې نخښنه ګڼلې شي او هلته چېرې چې په کومو ژبو کښې د رد او قبول اِستعداد څۀ قدر نیمګړے یا کمزورے وي هغه بیا وروسته او پاتې ژبې ګڼلې شي. په دا لحاظ عربي،فارسي، پښتو، انګرېزي، روسي، فرانسوي، یوناني، اُردو او ځینې نورې بیا خوش قسمته دي چې د هغوئ په ساخت و ماهئیت، ګرائمر، لُغت او د لیك دود په اړه په هر دور کښې کار شوے دے.

د ژبې د ساخت او اِملا رغونه (اِصلاح) خو په اسانه سره کښېدلے شي مګر په رسمُ الخط کښې دغه بیا لږ مُشکله غوندې وي چې هغه دې په کوم بل مخ و اړولې شي. ځکه چې

په لیك دود کښې د دې خبرې ډېر کم ګنجائش وي چې د هغو د لیك دود بنیادي ساخت دې و شوروړل شي. نو په دغه خاطر په نړۍ کښې به داسې ژبه نۀ وي چې د هغې په لیك دود کښې دې په څۀ نه څۀ شکل تغیر واقع شوے نۀ وي. هم دغه وجه ده چې د دې لیك دود له کبله مونږ په نړۍ کښې د یو لړ ژبو په وجود خبرېږو. پرته له نورو د هند اریائې ژبو په فهرست کښې چې کومې سترې ژبې وئیلې شي له هغو نه پښتو، سندهي، سرائیکي، بلوچې او ځینې نورې په خصوصي توګه د یادونې وړ دي.

په نړۍ کښې چې هر څومره ژبې دي دهغو د لیکلو طریقه بالعموم په درې ډوله ده، لومړۍ هغه چې د ښي لوري نه کیڼ (ګڅ ) لوري ته کښل کښېږي لکه : عربي او د عربي په طرز نورې ژبې، دویم هغه چې له کیڼ لوري نه ښي لوري ته کښل کښېږي لکه : یورپین ، لاطیني او ځینې نورې ژبې او دریم قسم ئې هغه دي چې له پاسه (پورته ) څخه ؤ لاندې (کښته ) لور ته کښلې شي لکه : چینائي او جاپاني او دغو ته ورته یو شمېر نورې ژبې.

خو اِنسان چې د کوم مقصد په خاطر ژبه دخپلو خیالاتو د اِظهار د پاره اِستعمالوي هغه و دې ته اړتیا لري چې د دې مُمکنه ذریعې لکه : اصوات، الفاظ،د جُملوساخت او سمه ادائیګي دې په نظر کښې ورته لري. زمونږه قومي ژبو د پاره کوم داسې غښتلے نظام اویا اِداره نۀ ده ورته جوړه کړل شوې چې هغه دې د دغو ژبو ټول فني او تکنیکي باریکیانې په باقاعدګي سره وڅاري (پرته له اُردو). ولې یو څۀ که په دې ژبو کښې تراوسه پورې شوي او یا یو چا ورله څۀ کړي نو هغه د اهلِ ذوق یا ددغو ژبو سره وابسته دانشورانو انفرادي هڅې دي چې هغوئ په خپل سر جاري ساتلې دي. مګر له دې خپل مخیز کارڅخه ځینې وخت ؤ ځینې ژبو ته یو څۀ زیان هم ور رسېدلے، کوم چې د دې ژبو په مختلفو لهجو، د ژبو په داخلي ساخت او د هغوئ په ګرائمر کښې په واضح توګه محسوسېدلے شي. پرته له دې د دغو ژبو په لیك دود یا د حروفو په ادائیګي کښې کومه نیمګړتیا چې لیدل کښېږي هغه هم په دې سبب ده چې د دغو ژبو ګرائمر، د اصواتو ادائیګي او د لیك دود کښښې طرز د نړۍ یو شمېر پرمخ تللیو ژبو په څېر مُنظم او مربوط سکښت نۀ لري. کله دغسې هم و شي چې ځینې لیکوالان بیا د ژبې لیك دود او اِملا توپیر یو تر بله سره ګډ وډوي. ولې دا دواړه جلا جلا توکي دي چې د هر یو دائره عمل له بل څخه بېخي توپیر لري. تر کومه چې د لیك دود تعلق دے نو:

ژباړه : ’’ له رسمُ الخط څخه مُراد نقوش او علامات دي کوم ته چې د حروفو نوم ورکول کښېږي او د هغو په مرسته د یوې ژبې د تحریر صورت ټاکلې شي. یا په بله مانا داسې وئیلے شو چې د ژبې تحریري صورت رسم الخط بللې شي ‘‘. [4]

له دې سره بیا دغه یو مُشکل راپیدا کښېږي چې اِملا او د لیك دود په مانا او مفهوم کښې یو تر بله ځله تېرایستل کښېږي او تر منځهٔ ئې اِمتیاز کول څهٔ قدر گران شي. ځکه دلته که وکتلې شي نو د رسمُ الخط مسئله څهٔ دومره پېچیده نهٔ ده لکه څومر چې د اِملا دُرستگي ضروري او بنیادي ده. ولې چې اِصلاح په رسمُ الخط کښې نه بل کښې په اِملا کښې کول کښېږي. په اِملا او رسمُ الخط کښې چې کوم توپیر دے هغه دغسې دے چې:

ژباړه : '' د اِملا لغوي معنې دي کښل، ورکښل او پړے ( رسی ) اوړدول . د ژبې په اِصطلاح کښې له '' اِملا '' څخه مُراد یو تورے د ټاکلیو ضابطو تحت په دغه نمونه کښل چې په وئیلو او لوستلو کښې په سم تلفُظ سره ادا کړے شي'' . [5]

یا په بله معنے که دا ووائیوچې :

ژباړه : '' د یوې ژبې عبارت یا توري ( لفظونه ) د هغوئ د کښلو پر طریقه سم کښل ته اِملا وائي '' . [6]

مگر که د دې یو جامع تعریف وړاندې کوؤ نو هغه داسې چې:

ژباړه : '' اصل کښې اِملا په لفظونو کښې د حروفو په سمه توگه ؤ ځایولو ته وائي او کومه طریقه چې د دې حروفو له پاره اِستعمالېږي هغه ته لیك دود ( رسمُ الخط ) وئیلے شي''. [7]

دا ځکه چې صوت همېشه د مُخاطب یا حاضر د پاره اِستعمالولے شي کوم چې تحریر یا څهٔ قسم علاماتو ته اړتیا نهٔ لري، لیکن کله چې مونږ خپله مُدعا غائب یا غېرحاضرته ور رسول غواړو نو هلته بیا د علاماتو او یا د نقوشو د اِستعمال ضرورت پېښېږي. په دغه خاطر هغه علامتونه د کومو په واسط چې مونږ خپل اِظهار یا د زړهٔ مُدعا و نورو ته (غائب یا غېرحاضر) ته ور رسوؤ هغه به بالعموم د حروفویا د یو څهٔ نقش په صورت کښې وي. هم دغه هغه ذرائع دي د کومو له کبله چې د یوې ژبې د تحریري صورت مُتعین کولې شي یعني دا هغه علامات دي د کومو په اساس چې ژب پوهانو و دې ته د رسمُ الخط نوم ور ټاکلے.

د یوې ژبې همه گیر ترقي، د هغې وده، پراختیا، پرمختیااو جامعیت په دې کښې دے چې هغه دې په پراخه پیمانه د یو شمېر ډېرو اِنسانانو تر منځه د ربط پیدا کولو صلاحیت لرلو جوگه وي او ورسره ورسره دې دا اِستعداد هم و لري چې دحروفو او اصواتوقاعدې دې معلومې، مُنظمې، په اِعتدال مبني او همه گیریت دې و لري. مگر د اِملا د اِصلاح ضرورت هغه وخت په شدت سره مخسوسولې شي کله چې د یوې ژبې لیکوالان هر چېرې خپل مخیزې کښنو ته فوقیت ورکول شروع کړي او هغه دلیك پخوانی بڼه په یونوي انداز سره د وړاندې کولو هڅه پېل کړي، چې له دې څخه نهٔ یوائې د هغهٔ د خپل لیك بڼه گډه وډه شي بل کښې په داسې کولو سره هغه و نورو ته هم مُشکل پیدا کړي. بل کښې دغه غلطی بیا

د وخت په تېرېدو سره سوکه سوکه د يو سند درجه و منلې شي او راتلونکو د پاره د مثال په توګه تکرارولې شي.

کله کله داسې هم و شي چې د يوې ژبې د صوتي تغير تر شا عواملو کښې د هغه ژبې د وئيونکيو جغرافيائي، علاقائي مُسافت او ځينې معاشي او ټولنيز عوامل هم ستر محرکات بللې شي. چې له دې څخه د يوې ژبې په داخلي ساخت، د هغې د مُختلفولهجوپه طرزِتحريراو اصواتو په ادائيګي کښې واضح توپير په راپورته کښېدو شي. ځکه تراوسه د نړۍ له ژبو څخه يوه هم تر دا ځاے نۀ ده را رسېدلې چې هغه دې د الفاظو،د تحرير اود تقرير په لحاظ کامله وي، ولې چې هره ژبه په خپل رسمُ الخط او اِملا کښې دومره غلطياني لري چې اِصلاح ئې د چا هم په وست پوره نۀ وي. خو له دې څخه دا هم مُراد نۀ ده چې دا ژبې ګړدې ناقصې او يا د دې وړ نۀ دي چې د هغو په اِملا يا رسمُ الخط اِصلاح دې و نۀ کړلے شي. ځکه چې ژبه په هر دور کښې وئيونکيو ته هغومره سهولت ور رسوي، څۀ چې د زمانې د قدر مُطابق وي.

په اِريائي ژبوکښې پښتوهغه ژبه ده چې دافغانستان او پاکستان په پښتني سيمو کښې په واضح کثرت سره د خلقو د وئيلو او پوهېدلو ژبه ده. پښتو د زَړو اريائي ژبو په قطار کښې هغه تاريخي ژبه ده چې د قدامت تاريخ ئې تر 5000 کاله زوړ يادولې شي. مګر دلته د دې ژبې سره مسئله دغه ده چې د دې د اِملا اِصلاح کولو، د حروفو وضع کولو او په دا موجوده مروجه راسمُ الخط باندې اِبتدائي کار د لسمې عيسوي پېړۍ څخه را په دې خوا نومتو پښتو صوفي بُزرګ پيرروشان په لاس ترسره شوے. په دا لحاظ د پښتو لومړۍ کتاب ( اولين دستياب مُکمل کتاب)، چې هغۀ يعني بايزيد روشان ليکلے، په لومړي سر کښې هغۀ د پښتو د حروفو وضع کولو په باب يوه رساله هم ورسره شامله کړې ده. چې په هغه کښې د پښتو د الفبا په ساخت او د هغو د ادائيګي طريقه کار ئې واضح کړے دے. نو ځکه بايزيد روشان هغه لومړنے شخصيت ګڼلے شي چا چې په په باقاعده ډول په پښتو کښې د عربۍ په طرز ليك دود خپلولو ته رواج ورکړے. د بايزيد روشان وروسته بيا خوشحال بابا هم په دغه ډګر څۀ نورې اِضافې وکړلې ولې د قبوليتِ عام درجه ورته حاصله نۀ شوه. خوشحال بابا چې د پښتنو او د پښتو ژبې لوئ مُحسن او بابا ګڼلې شي په پوره اِخلاص او د وطنيت جذبې تحت په دا لټه کښې وو چې پښتو ژبه او ادب د خپلو ګاونډيو ژبو سره په سيالۍ کښې لوړ مقام ته و رسوي. په دغه حواله د خوشال بابا علمي او ادبي هڅې ډېرې ګټې ورې او باراوره ثابتې شوې او په لږه موده کښې ئې پښتو د جهان د سيالو ژبه سره په سيالي کښې اودرولو جوګه کړله. ځکه د هغۀ دور ته د پښتو ژبې او ادب زرين دور يا د عُروج زمانه هم ورته وئيلې شي.

په ژبني توګه پښتانهٔ له اريائي څانګې څخه ښودل شوي، خو ځيني ژب پوهان او مورِخين د ځينو تاريخي او تهذيبي اثارو په رڼا کښې د پښتنو تاريخي اثار بيا په نورو پورې منصوبوي. لکه ځينو مورخين ئې په ګندَهارا تهذيب کښې ځرکي په ګوته کوي، ځينې ئې د بني اسرايلو په څېر خوئ خصلت په نخښه کړي او يو شمېر بيا هغه دي چې هغوئ ئې په زرتُشت مذهب او د اوستاپه لرغونې پانګه کښې د نخښانو په باب لاس ته راوړنې بيانوي. خو په وېدا کښې چرته چې د پښتون قبيلې ذکر راغلے، هغه هم د دې قوم د تاريخ او مدنيت په باب يو بشپړ ثبوت وړاندې کوي. په دغه څېر که د وېدا بهجنونه او د پښتو د ځيني کلاسيك اولسي غاړو تر منځه مُماثلت ته پام وګرځولې شي نو هم د دغو دواړو تر منځه له قريبي رېښو څخه څوك انکار نهٔ شي کولے. (د مثال په ډول لکه: د کاکړئ غاړو فني جوړښت). مګرد تاريخ د دې ټولو دعوو او د ژبنيو مُماثلتونو باوجود بيا هم دغه مُمکنه شوې نهٔ ده چې د دوئ مُنفرد قديم تحرير دې را مخته کړے شي. ځکه دغه په ثبوت رسول چې پښتنو د اِسلام تر مخه تحرير په کوم صورت سره کولو؟ تر اوسه ؤ حل ته ليا اړتيا لري.

به حيثيتِ قوم د پښتنوتاريخ لرغونے او مُسلَم دے، يعني د دې قوم په تاريخي پس منظر اوقدامت کښې چرته هم چا ته څهٔ اِبهام قدر نهٔ شته. په دغه اساس وئيل کېښدلے شي چې د دې قوم ژبه پښتو به هم په هر زمان د دوئ د روزمره ژبه وه. مګر دغه سوالات چې اِسلام د مخه د دوئ تحرير څهٔ ډول وو؟ او له اِسلام قبولولو وروسته دوئ کله، څهٔ رنګه او له کله څخه عربي ليك دور غوره کړے؟ واقعتاً د پښتو ادبياتو په تاريخ کښې دغه رنګه مسائل موجود دي چې هغه تر اوسه په بشپړ ډول حل شوي نهٔ دي. مګر د اِسلام تر مخه د پښتو ليك دود په حقله که څهٔ هم کوم خاص ځانګړے سند نهٔ لرو چې د هغې په اساس د پښتو د ليك دود رنګ مُشخص کړے شو، خو تر کومه چې د اِسلام له راتګ څخه وروستو خبره ده. دپښتوادبيانو يوه لويه حلقه په دې بيا اِتفاق لري چې: عربي ليك دود په پښتو کښې د څلرمې هجري پېړۍ را په دې خوا د محمود غزنوي په زمانه کښې رواج موندلے او کوم څهٔ چې دې ته د سند په توګه راوړل کېښږي هغه د قاضي خېرالله لُغات تون'' خېراللُغات'' په ديباچه کښې ذکر کړل شوے يو افسانوي روايت دے چې د يو سند په توګه بيا بيا را نقل کولې شي. دغه نقل د کابل چاپ خېرالبيان په سرېزه کښې نومتو محقق، ژب پوهـ ، نقاد، شاعر او اديب اروابناد علامه عبدالشکور رشاد په دغه ډول رانقل کړے چې:

'' د پښتو ژبې د تاريخ اولني حالونه ښخي په تيارهٔ کښې پراتهٔ دي، خو دا څرګنده ده چې دې سيمې ته د اسلام تر راتګ پخوا دغې ژبې ځانته تهجي توري نهٔ درلوده او پښتو يوائې د وينا ژبه وه، د سلطان محمود غزنوي په زمانه کښې د دهٔ وزير (احمدبن) حسن مېوندي،

قاضي سيف الله و ګماره چې د پښتو ژبې الفبې جوړه کړي‘‘ . [8]

دغه روايت بيا په لږ ډېر تغير سره ښاغلي عبدالکريم بريالي صاحب په خپل کتاب ’’ پښتو ليك دود‘‘ کښې څۀ دغه ډول را نقل کړے.

’’

‘‘.[9]

د پښتو ادبياتو په تاريخ کښې له دغې زمانې څخه په عربي طرز د پښتو ليك دود رواج غوره ګڼل شوے، ځکه په پښتو ادب کښې دغې روايت ته اوس د قبولِ عام درجه ورکول شوې ده. مګر تر کومه حده چې د داخلي شهادت او پوخ سند تعلق دے نو په دغه اړه د پښتو ژبې کوم لومړيني تحرير چې په بشپړ سياق او سباق سره موجوددے، هغه د پښتو لومړے نثري کتاب ’’ خېرالُبيان‘‘ دے . ځکه دغه به منو چې تر اوس مهال پورې خېرالُبيان د پښتو تر ټولو په خوانۍ مُکمل او دستياب کتاب دے. چې پښتو په عربي طرز ليك دود په بشپړه توګه کښل شو دے.

پيرروښان خپل کتاب ’’ خېرالُبيان ‘‘ کښې چرته چې مذهب او د تصوف په يو شمېر موضوعاتو بحث کړے نو ورسره ئې د خپل کتاب په سر کښې د پښتو ليك دود ور ښودلو په غرض د رسمُ الخط په باب يوه مُختصره رساله هم کښلې ده. چې په هغه کښې د پښتو د بيله بيلو حروفو ادائيګي او د پښتو په طرز تحرير بحث شوے. محترم حافظ عبدالقدوس قاسمي صاحب هغه توري چې پيرروښان د خېرالبيان په کښلو کښې د پښتو ليك دود له پاره وضع کړي، په دغه ترتيب بيان کړي دي:

’’ ا ب پ ت ټ ث ج چ ځ ح خ د ډ د (د دال لاندې نقط) ذ د ( د دال په مينځ کښې نقط) ر ړ ز ږ س (د س لاندې درې ټکي ) س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ك ګ ل م ن و ء لا ے ‘‘. [10]

دغسې د عربي حروفو په شمول په پښتو کښې دغه ټول څلوېښت حروف جوړېږي. د پښتو ځينې هغه مخصوُص حروف چې د عربۍ په حروفو ئې ادائيګي سمه نۀ شوه کښېدلے، هغوله بايزيد روښان جلا حروف د عربۍ په طرز ور وضع کړي. چې د هغۀ ( پيرروښان ) يو مرُيد دولت لواڼي په خپل يو شعر کښې ورله داسې اشاره کړې ده.

افغاني لفظ مُشکل وو لوست ښکوې نۀ شو
ورته و شو کُننده ديارلس حرفونه دولت لواڼے

په خېراُلبيان کښې پير روښان چې د پښتو حروفِ تهجې په څۀ طرز بيان کړي، هغه څۀ دغه نمونه دي:

’’ الف يکښې همت عيان، الف يو دے عيان، الف ايك هې عيان: ب بابابه

. پ پاپاپه. ت تاتاته، ټ ټاټاټه. ث ثاثاثه. ج جاجاجه. چ چاچاچه. څ څاڅاڅه. ح حاحاحه. خ خاخاخه. د دا دا ده. ډ ډا ډا ډه. د دا دا دا ده (د هردال لاندې نقط، چې د ځ د پاره کار ورکوي).ذ ذا ذا ذه. د دا دا ده (د هر دال په نس کښې نقط چې د اوسنی ږ د پاره استعمالېږي ). ر را را ره. ړ ړا ړا ړه. ز زا زا زه. ږ ږا ږا ږه (دا د ژ اواز ورکوي لکه ږب ( ژبه ) [ د دې پېژندنه په هغه توريو سره کښېږي چې په يوسفزئ لهجه کښې په حرف ' ج '، د غيلجه اوکاکړي په ځيني توريو کښې په حرف ' ځ ' او ځيني ئې د حرف ' ز ' په غږ خطا کوي لکه: جبه، جوند، جواك، جرنده. جولی او ځينې نور، د دې اړوند بيا داسې دي لکه: ځبه، ځوند، ځواك، ځرنده، ځولۍ او په کاکړي او ځينې نورو کښې : زبه، زوند، زواك، زرنده يا زرانده او زولۍ. دغه په اصل کښې د پښتو، هندي او فارسی د حروفو له اړونده توپيرونو څخه يادولې شي. خوله دې څخه يوه دغه خبره جوته ده چې په پښتو کښې د درې ټکو ' ژ ' ځاے نۀ لري . مګر چونکښې دغه يواوږداو پيچلے بحث دے ځکه دغه بحث هم دلته پر ځاے پرېږدو او هم مخکښې ترې تېرېږو) ] س ساسه (د س لاندې درې ټکي). ش شا شه. ښ ښاښاښه. ص. ض (ص او ض ئې دواړه يو ځل کښلي ). ط ظ.ع عا. غ غا. ف فا. ق قا ( دغه ئې بيا ګډ دوه ځله کښلي ). ك كا كا كه (په صورت د ك ). ګ ګا ګا ګه (په صورت د ګ). ګ ګاګاګه ( حافظ عبدالقدوس قاسمي صاحب هم د دغو توريو له وضاحت څخه عاجزي ښکاره کړې ده ). ل لالاله. م ما ما مه. ن نا نا نه. ڼ ڼا ڼا ڼه. و وا وا وه. هـ ها ها هه. لا . ے يا''. [11]

په دغه حروف کښې هغوئ ( بايزيد روښان ) الف يو وار، له ' ش' نه تر ' ښ' پورې ګډ حروف څلور ځله ليکل شوي، خو ورپسې ' ص'، ' ض'، ' ط' او ' ظ ' يو ځل، بيا 'ع '، 'غ '، ' ف'، ' ق ' ئې دوه ځله، ' ك ' ئې څلور واره، مګر' ګ ' ئې بيا دوه واره (د څلور څلور په حساب) کښلے دے. د هغوئ دغه يو حرف څو واره د بيا بيا ليکلو منطق ترشا عوامل د پښتو ژب پوهانو له خوا په سمه توګه نۀ دے واضح کړل شوے. يعني حروف څلورڅلور، دوه دوه يا ځيني جلا جلا کښل او يا ځينې بېخي له دغه دود څخه ور اخوا په مُنفرد ډول کښل د هغوئ (پيرروښان ) يو داسې مُنطق وو چې په بشپړه توګه هغوئ مطرح کولے شول او هم د هغوئ مکتب فکر ورسره ښۀ بلدتيا لرله. په دې باب له دغه هم وئيل کښېږي چې د هغوئ اِبتدائي زمانه د هند په جالندهر نومې ښارکښې تېره شوې وه، ځکه ئې د هندي او سنسکرت اثرات ترينه په پښتو کښې وارد شوي. د پيرروښان دغه مُنفرد انداز په حقله د پښتو نومتو اديب او مُحقق اروښاد علامه رشاد ليکي چې:

’’ بایزید اورمړ (پیرروښان) د ختیز پنجاب په جالندهر نومې ښار کښې زېږدېدلے او په پینځهٔ کالنی کښې د هندوستان ختیزې سیمې بهار ته بېول شوے دے تراووهٔ اته کلنی پورې په هندوستان کښې ؤ، بیا کانې ګرام (وزیرستان) ته راغلے دے. دهٔ چې الفبې لوستله غالباً ئې د هندوستانیو کوچنیانو د الفبې لوستلو طریقه اورېدلې ده چې (که کا) (کهه کها) (ګه ګا) او کوم دیارلس حروف چې بایزید روښان اِستعمال کړي دي په هغو کښې اتهٔ ویشت [12].،.

د عربی، د پښتو او فارسی څلورمُشترك حروف (پ، چ، ږ ( ژ) او ګ )، د هندي او پښتو درې ګډ حروف (ټ، ډ او ړ ) او د پښتو خپل مخصوص پینځه حروف ( ځ، څ، ږ، ښ او ڼ ) شامل دي. په دغه اساس که وکتلې شي نو په پښتو کښې د ګاونډیو ژبو د ډېرو حروفو سره مُماثلت راغلے او په دې کښې زیاتره حروف، حروفِ صحیح او څلور حروفِ علت دي او د هندي په څېر یو حرفِ صحیح ( ش ).

عربي ژب پوهانو د خپلوعربے الا صل اصواتو د وضع کولو د پاره کُل 28 (یا د یائې مخصوص یا پراتې ے په شمول بیا 29 ) داسې حروف وضع کړي چې تر ډېره حده د هغوئ په اِظهار او لیك دود کښې اساني پیدا کړې ده، نهٔ چې کوم مُشکل. ولې په عجمي ژبو کښې د عربی د دې حروفو او اصواتو سربېره کوم اصوات چې موجود وو د هغو ادائیګي بیا د عربی په دې حروفو سره کله هم مُمکنه نهٔ وه، په دا خاطر اهلِ مشرق بیا دغه ترکیب و نیوهٔ چې هغو دپاره ئې د عربی د حروفو په بنیاد ځینې داسې مخصوص حروف وضع کړل چې د هغو اصواتو ادائیګي له عربي حروفو څخه مُمکن نهٔ وه. په دغه لړ کښې فارسي ژب پوهانو د خپلو مخصُوصو اصواتو د پاره د عربی په طرز ځان له څلور حروف ( پ، چ، ژ او ګ) و ټاکل. دفارسی دغه مخصُوص حروف بیا هغه حروف دي چې اصوات ئې په پښتو کښې هم ورسره یو رنګه دي. ( په دا خاطر دغه مونږ د پښتو او فارسی مُشترك حروف بللے شو) د فارسی دغه خپل څلور مخصُوص حروف او د عربی د 28 حروفو څخه کُل 32 حروف جوړېږي. واو معروف، واو مجهول او د یائې معروف او یائې مجهول اِضافي له دې علاوه دي. مګر په پښتو کښې د فارسی د دې څلور مخصُوص ( چې په صوتي لحاظ په پښتو کښې شتون لري البته حرفي شکل ئې له فارسی څخه خپل کړے ) حروفو پرته ځینې مخصُوص اصواتوته چې کوم حروف وضع کړي دي هغه څهٔ دغه نمونه دي لکه:

> ’’ د پښتو ژبې له پاره چې د الفبې توري ټاکل کښېدل، اتهٔ توري ( ټ، ځ، څ ، ډ، ړ، ښ، ڼ ) نور پر زیات شول، ځکه چې دغه اتهٔ غږه په پارسي او عربي ژبو کښې نهٔ وو، په دې توګه نو د پښتو الفبې څلوېښتو تورو ته و رسېدله، او تر عربي الفبې ئې دوولس توري زیات شول‘‘. [13]

د پښتو دغه مخصُوص اصوات د عربی او فارسی په ټاکلي حروفو سره نۀ شول ادا کښېدلے، ځکه په پښتو کښې د دغه رسمُ الخط (عربي ليك دود) په اډانه پينځه مخصُوص نور توري هم ور اِضافه کړل شول. دغه رنګه په پښتو کښې د ور زيات کړل شويو حروفو شمېر 12 او کُل حروف ئې 41 جوړېږي. دغه ټول مُفرد حروف دي چې د واو او ي يګانو مُختلف حالتونه او د هندي ( په شمول د اُردو) مُرکب حروف ورسره نۀ دي حساب کړل شوي. خو که چرته دغه هم ګډ ورسره حساب کړل شي نو د دې شمېر بيا زياتېږي. خو د پښتو نومتو ژب پوهـ ارواښاد عظيم شاه خيال بُخاري هم د پښتو حروفِ تهجي هم دغه 41 ياد کړي دي. چې له دغو څخه 28 + 1 هغه ځنې دي چې له عربی څخه اخيستل شوي، څلور هغه چې اصوات ئې له فارسی شريك دي، مګر حروفي طرز ئې له فارسی څخه خپل کړے لکه: پ، چ، ژ او ګ، پرته له دې، درې نورهغه حروف دي چې د پښتو او هندي ځله يو رنګ دي لکه : ټ، ډ او ړ. مګر نوموړي مُحقق ډاکټر خالد خټك په خپل کتاب '' پښتو، اُردو اور سندھے کښې لساني راوبط'' کښې د پښتو د حروفِ تهجي شمېره 43 ښودلې ده. چې ترتيب ئې څۀ دغه نمونه دے: '' ا ب پ ت ټ ث ج ځ چ څ ح خ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ك ق ګ ل م ن ں (نون غنه) و ه ء ے ي ''[14]

( خودغه حروف ګډ 43 نه بلکښې 42 جوړېږي )

په داخلي توګه پښتو په دوو لويو لهجو کښې ځله وېشل شوې ده، يوه ئې قُطبي يا يوسفزی لهجه بلله شي چې په يو لوئ شمېر سيمه کښې وئيله او هم ليك دود ته غوره والے لري. د قُطبي يا يوسفزی لهجې حلقهء اثر څۀ دغه رنګه دے: د افغانستان اِنتهائي برنے ښار قندوز څخه را په دې خوا بغلان، شمالي، کابل، ننګرهار، غزني، پکتيا، وادئِ پېښور، وادئِ سوات، هزاره، وادئِ کُرم او يو شمېر نورو علاقو کښې وئيل کښېږي. دويمه بيا خټك | قندهاري لهجه ده، چې په کوزه پښتونخوا کښې د خټکو علاقو (نوښار، د کوهاټ ځينې علاقې، کرك، هنګو، ټل، ګورګوري وغيره ) څخه را نيولې په وسطي پښتونخوا( وزيرستان، بنو، لکي، ډېره )، کاکړستان، د غزني غرب ته ميشت ټول پښتانۀ ( تر هرات، بادغيس، فراه، نيمروز، هلمند، قندهار، روزګان، زابل وغېره پورې ) بيا دغه لهجه په لږ ډېرتوپير سره يو ځاے بل ځاے وئيل کښېږي. په دغو دوو لهجو کښې چې کوم بُنيادي فرق دے هغه د يو څو مخصوص حروفو د ادائيګۍ له کبله دے يعني دغه توپير په صوتي لحاظ خورا زيات دے مګر د حرف د هئيت په نظر بيا ډېر کم دے. هغه مخصوص حروف دغه نمونه دي لکه: ج، ځ، چ، څ، ږ،

ژ، ښ او ش . د دې حروفو صوتي ادائيګي په پښتو کښې په يو څو رنګه سره اوړي. چې تفصيل به ئې مخکښې درته و ښودل شي. پرته له دغو دوو لهجو ځيني نورې وَړې وَړې لهجې هم شتون لري مګر د هغو داخلي چوکاټ په اصل کښې هم د غو لهجو څخه اخذ بلل کښېدلے شي ځکه هغه دومره کوم مُهم مقام نۀ لري.

## ١ د پښتو اِملا ځيني دودونه

د پښتو له حروفِ تهجي څخه ' ج ' يو داسې حرف دے چې په پښتو، فارسي، عربي او نورو ګړدو ګاونډيو ژبو کښې يو شان وئيل کښېږي، خو په پښتو کښې و دغ ته اړوند يو بل حرف ' ځ ' هم اِستعمالېږي، چې په ځينو موقعو باندې په پښتو کښې دغه د' ج ' مُتبادل او په ځيني الفاظو کښې ځانته اِستعمال لري. لکه د مثال په ډول. په ځنګل ( جنګل )، زنځير( زنجير )، ځولۍ ( جولۍ )، ځل ( جال ) او ځيني نور. هم دغه رنګه د' چ ' حرف چې په پښتو او ځيني نورو ګاونډوي ژبو کښې چې په څۀ ډول اِستعمالېږي، و دې ته اړوند بل مُتبادل حرف د پښتو مخصوص حرف 'څ ' اِستعمالولې شي. په پښتو کښې د دې اِستعمال په دوه رنګه دے يو هغه چې د نورو ګاونډويو په څېر اِستعمالولې شي، بل هغه چې په پښتو کښې دغه د' چ ' په اړوند د' څ ' يا څيم ځانته خپل مخصوص اِستعمال دے. لکه: د' چ ' اِستعمال په درست لودهي قبائل ( مروت، کُنډي، ګنډاپور، بېټني، ميا خېل، اُستراني، نيازي وغېره) کښې د' څ ' په اړوند اِستعمال زيات لري. مګرد پښتنو په نورو اکثرو قونو کښې 'چ ' او'څ ' په خپل ځايو سم اِستعمالولې شي. له دې څخه دغه نتيجه را وتلے شي چې 'چ ' او 'څ ' دواړه د پښتو خپل بنيادي اصوات دي نۀ چې مُستعار. يا دا چې د حروفو او اصواتو په لړلو کښې پښتو له ګړدو اريائي ژبو سره ورته خصوصيات لري.

د پښتو درېم مُنفرد او مخصوص حرف ' ژ ' او 'ږ ' بللې شي. د ' ژ ' او د 'ږ' توپير هم هغه د 'ج ' او 'ځ 'په څېر دے، خو دلته په دې کښې بنيادي فرق لږ ډېر غزېدلے دے. ځکه چې هم د دغو دوو مخصوص حروفو په بنيادي پښتوپه دوو لويو لهجو کښې ځله وېشل شوې ده. ( د لهجوي توپير دويم ستر عامِل د 'ښ' او ' ش' توپير هم دے، چې تفصيل ئې مخکښې را روان دے ) په دې کښې حرف 'ژ' پرته له سندهۍ په نورو اکثرو اريائي ژبو کښې يو شان اِستعمالولې شي. خو په پښتو کښې د دې نمايان خصوصيات دغه دے چې دې ته پښتو کښې بل ورته حرف د 'ږ' هم راوړلې شي. که څۀ هم دغه حرف ( ژ ) د پښتو بنيادي حرف ګڼلې شي او اِستعمال ئې د پښتو په هره خوا عام دے، مګر حال دا چې دغه

حرف ( ژ) پښتو له فارسي څخه نهٔ يوائې په شکل خپل کړے بلکښې صوتي اثر ئې هم د فارسي اثر تحت شوے. يعني حرف 'ژ' د پښتو خپل غږ نهٔ دے. ( له دې څخه مُراد هغه ' ژ' ده چې په درې ټکيو سره ليکلې شي، نهٔ هغه چې په خټك| قندهاري لهجه کښې له 'ږ ' څخه جوړول کښېږي ، د دغې 'ږ' ( په مانا د ژ ) صوت په پښتو کښې موجود دے.

د پښتو په دې دوو خاص لهجو کښې د اِختلاف څلرم خرف 'ښ' او ' ش' هم يو بنيادي توپير پيدا کړے. له دغو څخه 'ښ' چې د يوسفزئ لهجې خاص حرف ګڼلې شي په جنوبي لهجو کښې و دې ته هم بيا د يو بل رنګه ' ش' په صوت ادائيګي ورکولې شي. چې و دې ته بيا د لاندې باندې ټکو والا 'ش' وئيلې شي. بل دغه د درې ټکو 'ش' بيا هغه دے چې په خټك لهجه کښې يوائې هم په دغه يو 'ش' سره ادائيګي لري او د قندهارئ او کاکړئ په څېر له 'ښ' څخه د 'ش' غږ نهٔ را ايستل کښېږي. خو په لنډه که دا ووائيو چې په پښتو کښې د لهجوي اِختلاف غټ سبب هم دغه يو څو خاص حروف دي لکه : ج، څ ، چ، ځ، ږ، ژ، ښ او ش. له دغو څخه 'ژ' او 'ش' د خټك لهجې او 'ږ' او 'ښ' بيا د يوسفزئ لهجې اِمتيازي وصف بللې شي.

د پښتو ليك دود زياتره حروف له عربي او فارسي څخه پورول شوي او يو شمېر ئې بيا هغه دي چې له ګاونډيو ژبو سره يو شان دي. خو په پښتو کښې له دغو حروفوڅخه د ځينو کښنه د نورو ګاونډويو ژبو نه جلاده لکه : ټ، ډ، ړ، ګ او ڼ . چې په ګاونډيو ژبو کښې پر دغو حروفو باندې د عربي د ط نښان کښېښودلې شي ( پرته له ګ نه ). ولې په سندهئ کښې د دغود کښلو دود بيا له نورو ژبو څخه بېخي جلا دے. مګر په صوتي ادائيګي کښې کوم خاص توپير نهٔ لري.'ڼ' د هند اريائې ژبو هغه مخصُوص مُشترك حرف دے چې پرته له پښتو په سندهي، سرائيکي، پنجابي، بلوچې ( مشرقي ) او يو شمېر نور کښې يو شان موجود دے. د پښتو ځينې ژب پوهان دغه 'ڼ' يو مُرکب حرف بولي، حال دا چې 'ڼ' مُرکب نه بلکښې ُمفرد حرف دے.

په پښتو کښې نون غُنه د اُردو، فارسي او يا د يو شمېر ځينې نورو هند اريائي په دود نهٔ کښل کښېږي. په پښتو کښې نون غُنه چېرې هم د يو لفظ په اخر کښې نهٔ کښل کښېږي او نهٔ کله هم دا د کوم توري په سر کښې راځي خو هلته چېرې چې دغه د کوم لفظ په منځ کښې راشي نو دا بيا دغه د نون په دود کښل کښېږي. نون، نون حلقي او د نون غُنه په پېژندنه او ليکنه کښې اکثر ليکوال تېروتنه کوي. لکه : نون غُنه د لفظ په منځ کښې د نون په دود کښلو له کبله ورڅخه اکثر د نون تاثر اخيستې شي. کوم چې يو غلط تاثر دے. په دغو کښې له نون او نون غُنه څخه خو هر څوك واقف دي مګر د نون حلقي په اِستعمال او

پېژندنه کښې عموماً ترې نه تېروتنه کښېږي. په پښتو کښې د نون غُنه اِستعمال نۀ کښېږي بلکښې یواځې نون او د نون حلقي اِستعمال عام دے، خو له بده مرغه دغه نون حلقي ته اوس نون غُنه وئیلې شي.

ژباړه : '' [ نون حلقي] په مخرج کښې حلقي دے دغه د توري په مینځ کښې ځاے نیسي. د توري په ابتدا یا اخر کښې کله هم نۀ راځي. دغه یواځې په حلقي غږونو کښې لکه: ك کهـ، گ گهـ تر مخه وئیل کښېږي. دغه همېشه ساکن اوسېږي. د دې وزن د نون بالاِعلان برابر وي. لکه: ځنګل (فعلن)، رنګ (فاع) مساوي دي د (فاع)''. [15]

پښتو او د پښتو په ځینې نورو ګاونډیو ژبو کښې کوم دیارلس هم غږي حروف چې اِستعمالولې شي، ځینې ژب پوهان له دغو نه 'ت' 'ز' او 'س' یواځې کارامد او نور نهـ حروف غېر ضروري ګڼي. خو که په دقیق نظر ورته وکتلې شي نو د دې حروفو ایسته کول و کومه یوه ژبه ته هم ګټه ور نۀ دي. لهٰذا دغه دیارلس حروف څۀ رنګه چې په نورو ګاونډي ژبو کښې را روان دي له پښتو څخه دې هم نۀ ایستل کښېږي. (د پښتو لیك دود په اړه د پښتو ژب پوهانو رائې هم دغه ده چې دغه دې په خپل ځاے قائم وي ) د دې یوه فایده به دغه وي چې له دې سره به نۀ یواځې په پښتو کښې د دخیل توریو مانا، ماخذ او اصل ریشې څرك موندل اسان وي بلکښې ژبه به مو هم ورسره غني وي. پرته له دې یو دا چې د قرآن او احادیث په ژباړه یا تفسیر وړاندې کولوکښې به کوم معناوي اِبهام نۀ را پېښېږي. د هم مخرج او د هم غږي حروفو مسئله یواځې تر پښتو یا ترهند اریائي ژبو پورې محدوده نۀ ده بلکښې دنړۍ بېخي ډېرې ژبې په دغه جنجال کښې لوېدلې دي. لکه : انګریزي، لاطیني، روسي، هندي او یو شمېر نورې. دغه دیارلس هم غږي حروف لکه: ا - ع، ت- ط، ث- س - ص، ح- ہ، او ذ - ز- ض- ظ دي . په هند اریائي ژبو یا په تېره هغه ژبې چې عربي رسم اُلخط ئې اختیارکړے، ته د دغو حروفو له کبله زښتې ستونځې ور پېښې دي. خو بیا هم د دغو ژبو ژب پوهان په دې مُتفق دي چې دغه حروف دې هم دغسې اِختیارولې شي څۀ راز چې له عربۍ څخه را اخیستل شوي دي. د دې یوه وجه دغه هم ښودله شي چې د دغو په ایسته کولو سره به دخیل الفاظو ته زښت زیان و رسېږي کوم چې د هغو ژبو برخه ګرځېدلې. ولې چې هغه اوس د دغو ژبو یو رنګه اثاثه او شناخت بللې شي. نو په دغه خاطر د عربي او عجمي ژبو له ملاپ څخه کوم هم غږي حروف چې رامنځته شوي په هغو کښې تخفیف کول یا له هغو څخه ځینې ایسته کول او ځینې پرېښودل به په هېڅ دلیل کوم ښۀ ګټه ور ژبني کار نۀ وي. ځکه چې له اِختصارپسندي سره د ژبني اثاثې زیان هم مُمکن کښېدلے شي.

علتي آوازونه یعني ( ا، و او ے ) چې په شرقي ژبو کښې له عربۍ څخه را خیستل شوي

دي، خو په شرقي ژبو کښې له دې پرته د عربۍ په دود د ځينې اعرابو اِستعمال هم غوره ګڼل شوے، مګر په پښتو کښې يوائې د حروفِ علت اِستعمال څخه کار اخيستل کښږي، البته اعراب بيا د عربۍ په خاص الفاظو کښې اِستعمالولې شي. چې هغه ته زورکے (ء) وئيلې شي او هم د حروفِ علت په توګه اِستعمالوې شي. پښتو او د پښتو په نورو ګاونډيو ژبو کښې له دې پرته بل حرف واو |و| چې د واو معروف، واو مجهول او د معدوله واو په څېر اِستعمالولې شي تر ډېره حده يو شان والے لري. مګر په پښتو کښې چې کوم واو معروف او واو مجهول اِستعمالوې شي هغه په کښل کښې له اُردو او نورو ګاونډۍ ژبو څخه يو څۀ توپېر لري لکه: د خان شهيد په اِملا کښې او د پروفيسر ډاکټر هدايت الله نعيم د اِملا په دود کښې. خو په عام، معياري او مُستعمل ليك دود کښې تر اوسه هم هغه د فارسۍ، اُردو او ځينې نورو ژبو په رنګه کښل کښږي. که څۀ هم دغه يو جلا طرز علامت ورکولو ته اړتيا لري، ولې تراوسه د دې کوم خاص توپېر له يو بل څخه په علامت کښې نۀ دے ورکول شوے.

د يګانو په اِستعمال کښې هغه نورې ژبې چې د پښتو په څېرعربي ليك دود ئې خپل کړے، په هغو کښې يوائې يائې معروف او يائې مجهول څخه درست کار اخيستلې شي. مګر په پښتو کښې يګانې بيا په څو ډوله دي لکه: يائې معروف (ي)، يائې مخصُوص (ې)، يائې تانيث (ۍ) ، يائې ملينه، يائې فعلي (ئ) چې بعضې وخت دغه د جمع ، اِحترام او ادابو په صيغو کښې هم تر کار ځنې اخستلې شي. يائې مجهول په پښتو کښې يوائې خاص بيا په يوسفزۍ لهجه کښې د مذکر اسما په صيغو کښې اِستعمالولې شي. چې په افغانستان کښې د دې په ځاے ملينه ی يا بې نخښې يا اِستعمالوې شي. د يائې ملينه (ی) يا د يائې مجهول پراته ے (ې ) په خټك قندهاري لهجه کښې د (اے) په صوت سره پېژندلې شي، يعني چرته هم چې په دغه لهجه کښې د اے غږ راځي هلته به د يوسفزۍ لهجې په دود کښې دغه پراته ے ليکله شي. لکه د مثال په توګه: کوی- کوے، راغلی- راغلے، تللی- تللے، کښېدی- کښېدے او يو شمېر نور. نو د يګانو دغه بيله بيل ډول دودونه په وضع کولو سره پښتو له خپلو ګاونډۍ ژبه څخه فوقيت لري. د يګانو د دې جلاجلا صورتونه وضع کولو کښې يوه فايده دغه هم ده چې له دې سره د يګانو ټول مُمکنه اِستعمال کښې چرته او کله هم اِبهام ياکوم مشکل نۀ پېښږي. خو د يګانو دغه بيله بيل ډولونه په پښتو کښې بيل بيل حروف نه بلکښې يوائې د ی او ے اقسام بللې شي. خو که دغه بيا د جلا جلا حروف په توګه و منلې شي نو له دې سره د پښتو د حروفِ تهجي شمېر يو څۀ زياتېږي. د يګانو يوې له بلې څخه کوم تغير چې ښودل شوے دے هغه يوائې په علامت کښې نه بلکښې په صوت کښې هم يوه له بلې څخه بل رنګه ده.

تر کومه چې په پښتو کښې د واو معروف، واو مجهول او د واو معروف تعلق دے، په پښتو کښې دغه درې وړه واونه په يو رنګه واو سره کښل کښېږي، که څۀ يوه زمانه دغه درې وَړو ته خان شهيد په خپل ليك دود کښې جلا علامات ورټاکلي وو مګر د هغۀ په مطرح کړل شوې اِملا کښې د ځينې نورو مُشکلاتو له سببه دغه کله هم عملي نۀ کړل شوه. د واو معروف، مجهول او واو معدوله د پاره د هغۀ وضع کړل شوي علامات يقيناً د دې وړ وو چې پام ورته کړل شوے وے. لکه په اوس مهال کښې چې پروفيسر ډاکټر هدايت الله نعيم ورله هم په دغه ځبر يو څۀ نخښې د خان شهيد په دود په واو پورې تړلې دي(تر واو لاندې کرښې ورکول يا کش ورکول او يا د هدايت الله نعيم په ځبر تر واو لاندې ټکي ورکول ، چونکښې د دغو نمونه له مونږ سره په سافټ وېر کښې نۀ شته ځکه ئې له مثال راوړلو څخه تېرېږو).

د کلمو سمه ادائيګي او الفاظ په درسته طريقه سره په جُملو کښې ځايولو د پاره کوم مُخصوص علامات، نشانات يا اِشارې چې وضع کړل شوئې دي. هغه بالعموم اِعراب يا حرکات بللې شي. په پښتو کښې دغه اِعراب: زبر، زېر او پيش د عربی او نورو ګاونډيو ژبو په څېر دي ولې زورکے (ء) ئې هغه اِضافي علامت دے چې بعضې وخت د همزه په دود يا له همزه په رنګه هم اِستعمالولې شي لکه: زړۀ (زړء)، دۀ (دء)، کوۀ (کوء) او يو شمېر نورو ځايونو کښې.

په پښتو کښې د زبر، زېر او پيش اِستعمال له خپلو نورو ګاونډيو ژبو څخه لږ په بدل شکل کولې شي:

ژباړه: '' د مثال په توګه لفظ '' کتاب ''(د اردو په تلفُظ) د''ك '' زېر که اوږد کړے شي نو د'' کے تاب '' غوندې تورے ترې جوړ شي مګر د پښتو د لفظ په مطابق که '' ك'' زېر که اوږد کړے شي نو '' کي تاب'' ترې جوړېږي ''.[16]

پرته له دې په ګاونډيو ژبو کښې کوم درې اِعراب لکه: جزم يا د سکون، تشديد يا د سکون او حرکت اِجتماع او د حرکت اوږدوالے يعني مد ( )، اِستعمال په پښتو کښې ځانګړے نۀ دے، خو اِستعمال ئې غوڅ ممنوع هم نۀ دے. ځکه چې کله مونږ د عربی الفاظ په پښتو کښې راوړو نو د اِعرابو اِستعمال ئې پر معنٰے سم اغېز کوي.

همزه (ء) ځينې نورو ژبو کښې هلته د الف د قائم مقام په توګه کار ورکوي چېرته چې دوه حروفِ علت خپل جلا جلا صوتونه ورکړي، نو په دغسې صورت کښې د هغوئ تر مينځه همزه ورکول پکار دي ولې په پښتو کښې دغه د همزه اِستعمال له اُردو او ځينې نورو ژبو څخه ببخي په بل شان دے. په پښتو کښې د همزه اِستعمال ځينې وخت د زورکي له هاغه مخصوص علامت سره مُشابهت لري، چېرته چې په پښتو کښې دوه يائې معروف غبرګ ځله

راشي نو په دغسي صورت کښې پر لوړې یا باندې همزه کښېښودلو ته ترجیح ورکولې شي. خو چونکښې د اوس مهال په لیك دود کښې دغه د زورکي اِستعمال کم شوے دے ځکه لیکوالان زیاتره له هم دغه همزه څخه کار اخلي.

تر اوسه چې د پښتو لیك دود په اړه څومره جرګې هم منعقد شوې دي په هغو کښې د مد ( ) په اِستعمال کوم خاص ټینګار نهٔ دے ورکړل شوے، او د باره ګلی د سیمینار د فیصلو په رڼا کښې هم دغه فیصله ورباندې شوې ده چې:

> ''مد د عربی د اعرابو یو علامت دے او په ډېروهغه اوازونو کښې چې یو ولاړ او اوږد ټال په کښې ورکولے شي اِستعمالیږي ------- په پښتو کښې د دې اِستعمال نهٔ شته. البته د عربی ، پارسی یا اُردو له اثره چې کوم ټکي پښتو ته راغلي دي، د هغو سره مد هم راغلے دے. حالانکه د پښتو خپل داسې اواز نهٔ شته. ------- نو هر کله چې په پښتو کښې مد نهٔ شته او بیا هم په ځینو کلیمو کښې د اُردو اِختلاط له وجې لیکلې شي، بې ځایه ښکاري او هلته خو بېخي بې ضرورته لیدے شي چې د کلیمه د پښتو وي او مد پرې ولګولې شي، ځکه دا فیصله وکړے شوه چې مد پښتو کښې نهٔ شته او د پښتو په کلیمو کښې به نهٔ شي لګولے''. [17]

مګر ځینې ژب پوهان په دې عقیده دي چې مد دې د پښتو په حروفو کښې وګڼل شي او هغوئ په دې اړه ځینې مُستند دلائل هم وړاندې کوي لکه : ډاکټر عبدالرزاق پالوال چې په خپل کتاب، ''معیاري پښتو'' کښې کښلي.

''مد په پښتو کښې دؤغنده ډېر دئ لکه ب، ج، ر، ل، ن، او داسې نور توري یا غږونه، مد د زوَر تمدید دئ. بیا هم زور(فتحه) څونده تمدید مد دئ؟ دونده تمدید ئې د مد دئ لکه زور پخپله. دغه مانا زور دوه ګرایه کول، مد دئ. پس هر الف دوه|a| ګرایه زور|a|دئ. اوس چې پیښه داسې ده نو مونږ په پښتو کښې خورا ډېر مؤنه لرو لکه الس، مار، کال، کاکا، لالا، بابا او داسې خورا ډېرنور. دوئ به وائي چې دوئ ممدوده الف هغه بولي چې د لغت یا نامه په سر کښې راغلے وي. دا چې ممدوده الف د لغت په سرکښې راغلے وي یا په منځ یا پاے کښې، شے هغه شے دئ. دوئ به خود ممدوده الف هغه تورے بولي چې داسې ولاړ|آ|غوندې کښۀ شوے وي. دغه په واقعیت کښې همزه دے په الف سره دربدلے دئ لکه د بابا |ب|چې په الف سره دربدلې ده. دغه پیه الف سره ولاړ همزه داسې هم کښۀ کښېدے شي |ئا|. دوئ وائي چې دغه سرنے تورے یا غږ (ژوغ) ئې په پښتو کښې نهٔ شته.
[18]''.

ښاغلي ډاکټرپالوال په خپل هم دغه کتاب کښې د خوشحال بابا او د عبدالرحمن بابا له اشعارو څخه څۀ نمونې هم ورکړې دي. په دغو اشعارو کښې چې د مد کوم توري راوړل

شوي دي هغه په لنډ ډول داسې دي لکه : آمست، آه، آشول، آلوزي، آخلي، آخسته، آس، آتوب، آخلم،آسمان، آګاه، آغزين او ځينې نور. خو لکه څۀ رنګه چې د پښتو د ليك دود په اړه چې هره ځومره فيصلې شوې دي چې مد په پښتو کښې نۀ شته نو مراد ترې دغه دے چې مد له هغه توريو سره نۀ راځي چې د پښتو خپل دي او يا د ګاونډۍ اريائي ژبو څخه ئې پورکړي دي. خو هغه توري چې د عربۍ دي او مد لري هغو ته که په پښتو کښې مد په سر ورکړل شي، نو باك ئې نۀ شته او که نۀ ورکړل شي نو هم ئې په مانا فرق نۀ پرېوځي. د پښتو لهجو په وزيري ځانګه کښې دغه دود دے چې الف په واو معروف اړوي خو مد تر ډېره حده په واو معروف په کښې نۀ اړول کښېږي. لکه دمثال په ډول په برني توريو کښې : آسمان په آسمون يعني لومړنے الف مد خو په خپل ځاے پاتې شو ولې دغه دويم الف په واو معروف واوښت، دغسې چونکښې په آس کښې الف مد خو ورکول شوے ولې حال دا چې دغه به مد نۀ لري ځکه چې دغه الف که مد لرلے نو به وزيري کښې په واو معروف نۀ اوښتے خو حال دا چې دا په وزيري کښې په اوړي. په دغه ځير په آخلي کښې الف مد نه بلکښې ساده الف پکار دے. غرض له دې دغه چې په پښتو کښې مد راوستل په دغه څېر ضروري نۀ دي لکه څۀ ډول چې ښاغلي پالوال ورته اشاره کړې ده خو هغه د عربۍ هغه توري چې مد لري که ئې ځوك په مد سره ليکي نو دې هم غندلې نۀ شي او که ځوك ئې نۀ کاږي نو هم دې ملامتولې نۀ شي.

د عبدالرزاق پالوال له معياري پښتو څخه حواله.

هم په دغه څېر د شد يا د تشديد اِستعمال هم کوم خاص دود نۀ دے خپل کړے. حال ان کښې په ځينې موقعو د لفظ سمه ادائيګي او بشپړ مانا را ايستلو له پاره د دې اِستعمال ضروري دے.

تنوين، ة، ولاړ زبر، الف مقصوره او د يا مقصوره اِستعمال په پښتوکښې د هغو دخيل توريو له پاره مناسب ګڼل شوے کوم چې له عربۍ څخه پښتو ته را داخل شوي دي. مګر د پښتو بنيادي او يا د پښتو پر مخصوص توريو کله هم د دې اِستعمال نۀ شي کولې. ځکه چې د دغو اِستعمال يوائې دهغو الفاظو د پاره مخصوص دے چې په پښتو کښې معرب دي. يعني په پښتو کښې د دغو علامتونو اِستعمال د خپلو ځينو ګاونډيو ژبو په څېر يوائې عربي توريو ته وقف کړل شوے. ( البته عربي علامت ة له پاره د ځينې ګاونډويو ژبوپه څېر په پښتو کښې د ت حرف هم راوړل کښېږي لکه : زکات، نجات، حيات او ځينې نورو کښې).

نون، نون غُنه او نون حلقي په باب لکه د مخه څېړنه ورباندې شوې ده چې : نون غُنه ( چې د لفظ په اخير کښې په دغه (ں) علامت ليکله شي ) کله هم په پښتو کښې نۀ اِستعمالېږي. خو نون حلقي (ں) کوم چې د توري په مينځ کښې ځاے نيسي، په علامت

کښې به د نون غوندې ليکلې شي، مګر صوت ئې د نون څخه جلا دے.لکه : په ننګ، جنګ، تنګ، ډنګ، دهوند، ګړنګ او ځينې نورو توريو کښې. د فارسي، اُردو او يا ځينې نورو ژبو په څېر په پښتو کښې هم دغه کُليه ده چې: که د نون او يا له نون حلقي سره جوخت د ب حرف وتړل شي نوهلته د هغه توري په سر کښې راغلے نون يانون حلقي به د م حرف غږ ورکوي لکه: انبار (امبار)، عنبر (امبر)،غړنب (غړمب)، لنبه (لمبه)، ړونبي (رومبي) او ځيني نور.

هائې ملفوظ (هغه ه چې واضح غږ لري لکه : په شاه، کوتاه او ځينې نورو کښې ) په پښتو او د پښتو په ځينې نورو ګاونډيو ژبو کښې هم يو رنګ استعمالولې شي، البته که چېرته د کوم لفظ په مينځ کښې ځاے نيسي نو ئې شکل بيا بدلېږي مګر که د توري په اخير کښې راشي نو به هم په خپل صورت کښله شي. هائې مختفي ( يا هغه (ه) چې په توري کښې حفيف ځاے لري، مګر صوت ئې په ژبه خاص نۀ ټينګېږي ) په پښتوکښې بالعموم د تانيث په الفاظو کښې اِستعمالېږي لکه: ښځه، پيغله، چرګه، کونتره، وزه، مېږه او ځينې نور. هائې مخلوط (ھ) يا دوه سترګې ھ چونکښې په هغه الفاظو کښې زيات اِستعمالېږي کوم چې له هندي څخه پښتو ته را ګډ شوي دي، پرته له دې د پښتو په ځانګړيو الفاظو کښې هم د دغه هائې مخلوط اِستعمال عام دے. لکه هم، هلته، هر او ځينې نور (خو هور(اور)، هونر(هنر)، هغه، هغوئ او ځينې نور په دوه سترګې ھ سره کښل مناسب نۀ ښکاري ځکه چې په دې کښې هائې ملفوظي ده نۀ چې هائې مخلوط)

د هائې مختفي په حقله په اُردو کښې دغه يوه کُليه ده چې:

ژباړه :’’ عربي، فارسي او د اُردو هغه توري چې په اخر کښې په غږ راتلونکښې ( ه ) لري، دې په هائې مختفي سره کښل شي، لکه اشاره، اضافه، نمونه، همېشه او ځينې نور . () .: ‘‘[19]

مګر په پښتو کښې دغه نمونه ټول هغه توري چې د هغو په اخر کښې د هائې مختفي غږ وي ، به په الف سره نۀ کښل کښېږي بلکښې د هغو توريو په اخر کښې به د هائې مختفي علامت ور اضافه کولې شي، پرته له دې په پښتو کښې ځينې دغسې توري چې د هغو په اخري حرف باندې زبر يا د زبر غوندې غږ ورکوي، په اخر کښې به هم د هائې مختفي علامت ورکولې شي، مګر دغه توري بيا د يائې تانيث جوړولو له کُليه څخه مُستثنٰے دي.

څۀ ډول چې په فارسي او اُردو کښې دغه کُليه ده چې هائې مختفي که د کوم مُفرد توري برخه وګرځي لکه: به، په، چه او ځينې نور، نو په دغو ژبو کښې ورته کُليه دغه ده چې دغه مُفرد توري دې په ورپسې مخکښې حرف يا لفظ سره ګډولې نۀ شي، بلکښې له هغو نه دې

جلا کښل شي. د هائې مختفي په دغه تور له مُفرد توري سره د ګډون په انداز هم دغه کُليه ده چې دغه د هائې مختفي مُفرد تورے دې په مخکښيني توري نۀ تړل کښېږي لکه : په خپله، په کښې، له پاره، څۀ دي او ځينې نور (نۀ چې پخپله، پکښې، لپاره او څدي) .

چونکښې ژبه بغېر د صوت نه او صوت بې د حرف يا علامت نه واضح کښېدلے نۀ شي، يعني په لسانياتو کښې صوت او حرف دوه اهم بنيادونه دي، چې د اِظهار وسيلې ترې ټاکل کښېږي. د صوت او حرف قاعدې او کُليې څومره چې په يوه ژبه کښې په نفاست او سليقې سره وړاندې کړل شوې وي، هغومره به د هغې ژبې د اِظهار زرائع اسانې او پراخې وي. په دغه حقله په هندي حروفِ تهجي کښې بالعموم او په اُردو کښې بالخصوص د اصواتو د ادائيګۍ په بنياد د حروفو وضع کولو کوم ترتيب چې ورکړل شوے، هغه په نورو اريائي ژبو کښې ببخي کم درك کښېږي. د مثال په توګه د اُردو حروفِ تهجي دغه 53 حروف وګورئ:

ژباړه : '' ا آ ب بھ پ پھ ت تھ ٹ ٹھ ث ج جھ چ چھ ح خ د دھ ڈ ڈھ ذ ر رھ ڑ ڑھ ز ژ س ش ص ض ط ظ ع غ ف ق ك كھ ګ ګھ ل لھ م مھ ن نھ و ہ ء ے پراته ي''. [20]

په دې کښې '' پ، چ، ګ '' او ' ژ' په فارسي، پشتو، سرائيکي، بلوچې او براهوي ليك دود کښې يو شان رواج لري ( البته ' ژ' په سندهي کښې په دغه څېر يا علامت وجود نۀ لري، په پښتو کښې هم 'ژ' په اوسنۍ بڼه د خېرالبيان د ليك دود په اساس وجود نۀ دے لرلے، ولې د روښنانيانو له اثارو را په دې خوا ئې رواج مستقل دے ).'' ث، خ، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع'' او ځينې نور، هغه حروف دي چې له عربي څخه دغو ژبو (هغه ژبې چې ليك دود ئې د عربي په بڼه کښل کښېږي) خپل کړي دي. مګر اوس د دغو ژبو له بنيادي حروفو څخه کوم جلا نۀ حسابول کښېږي. پرته له دې هندي حروف لکه: ''ڈ، ڑ، تھ، ٹھ، پھ، چھ'' او دغه ډوله ځينې نور حروف په سندهي، سرائيکي او اُردو کښې به لحاظِ ساخت کوم خاص توپير نه ځله لري، البته به لحاظِ صورت په دغه ژبو کښې او هم په پښتو کښې واضح توپير لري.

له خپولو ګاونډيو ژبو سره په حروفِ تهجي کښې د اشتراك په بنياد که پښتو وکتلې شي، نو پښتو د سرائيکي له کُل 57 حروفو څخه په 37 حروفو کښې يکسانيت لري (همزه په سرائيکي کښې د جلا حرف په توګه نۀ منل کښېږي ). د سرائيکي له مخصوص حروفو څخه د 'ب' حرف نۀ وروسته حرف ( چې تر ب لاندې پر يو بل سپارې نقطې ورکولې شي )، د 'ج' نه پسته حرف (چې د حرف ج په نس کښې دوې نقطې تر يو بل لاندې باندې ورکولې شي )، د 'ڈ' سره جوخت بل حرف (يعني د ډال حرف لاندې څوکه ته دوې نقطې

کښېښېودل) او په' گ' پسې حرف (يعني تر گ لاندې دوې نقطې ور لګول ) ګڼلې شي. خو بايد دغه مو هېره نهٔ وي چې د سرائيکي ژبې صوتي او د الفبا سخت تر ډېره حده له سندهي سره مشابهت ښائي.

ژباړه: '' مونږ په دې پوهېږو چې اُردو حروفِ تهجې، چې د کومو اوازونو نمايندګي کوي، په هغو کښې خالص اُردو غږونه درې دي[ ټ ډ ړ : مګر دغه اوازونه د اُردو خپل نهٔ دي بلکښې د هندي او پښتو ځله مُشترك او له دغو څخه اُردو پورکړي دي]. او د عربي او د فارسي دخيل الفاظو په زريعه راتلونکي [ اوازونه ] 14 دي'' . [21]

مګر د حروفِ هجا په مناسبت سره:

ژباړه:'' په اُردو کښې کُل 37 حروفِ هجا دي، چې په دغو کښې [يو شمېر] حروف د عربی دي، درې خالص حروف د هندي، يو خالص حرف د فارسی او درې حروف هغه چې هندي او فارسي ځله مُشترك دي. ا ب (پ) ت (ټ) ث ج چ ح خ د (ډ)ذ ر (ړ) ز ژ س ش ص ض ط ظ ع غ ف ق ك ګ ل م ن وهـ ء ی او پراته ے . په دې کښې درې حرفونه : ټ ډ او ړ هندی د پاره مُختص دي، د ژ حرف فارسی ته مُختص دے او درې حرفونه: پ چ او ګ د هندی او فارسی ځله مُشترك دي. پاتې حروف د عربی دي. اخري حرف ( يا ) په اُردو کښې په دوه ډوله کښل کښېږي، غونډی ی او پراته ے ، د دې په تلفُظ کښې د معروف او مجهول فرق دے. لهٰذا دغه په دوو حروفو حسابول شوي دي. حرف لا چې (لام الف) وئيل کښېږي جلا حرف نهٔ دے منل شوے ځکه چې دغه د (ل) او (الف) مجموعه ده او په مجموعي حيثيت په جُملو کښې اِستعمالېږي''. [22]

خو په دې 37 حروفو کښې 9 حروف هغه دي کوم چې هم غږي حروف ګڼلې شي. دغه هم غږي حروف په درې ټوليو کښې ځله وېشل شوي، چې په لومړي ټولي کښې (ت او ط)، په دويم کښې (ث، ص او س )او په دريم کښې (ذ، ز، ظ او ض [ د پښتود ژ او ږ بحث جلا دے] شامل دي ). د اُردو نومتو ژب پوهـ محمد الياس صاحب په دغه مذکوره هم غږ ي حروفوڅخه ت، س او د ز غږونه صفا او واضح ښائيلي، ولې دغه نور شبږ حروف لکه: ث، ذ، ص، ض، ط او ظ ئې هغه حروف ياد کړي کوم چې په تلفُظ کښې مُشکلات رامينځته کوي. خو دغه حروف که هر څوپه شمار ؤ منل شي. مګر به لحاظِ شکل له هرې خوا په شمار 20 جوړېږي. په دغه څېر د پښتو حروف هجا که څلوېښت، دوه څلوېښت، پينځه څلوېښت او يا که هرڅومره حروف هم ؤ منلې شي، به لحاظِ شکل د دغو حروفو شمار د اُردو په څېر بيا هم 20 جوړېږي.

د سندهی له 57 حروفو څخه د پښتو 30 عام حروف په شکل يوه رنګه او يو مخصوص

حرف ڼ ورسره مُشترك دے. د پښتو مخصوص حرف ڼ له خپلو ګاونډيو ژبو لکه: سندهي، سرائيکي، پنجابي او بلوچي (مشرقي ) کښې په صوتي لحاظ يو رنګه دود لري البته په شکل کښې ئې معمولي قدر څله اِختلاف دے. (په بلوچي کښې ڼ کوم خاص ځانګړے شکل نهٔ لري ولې په دغه نورو کښې ورله مخصوص شکل ټاکل شوے). په اُردو کښې دې د پاره کوم مُرکب حرف نړ چې ټاکل شوے غېر منطقي اوخام دے.

دغه رنګه په پښتو کښې د عربی همه وَړه حروف، فارسي سره مُسشتراك څلور حروف (پ چ ژ او ګ)، د هندي درې حروف (ټ ډ او ړ) (او د هندی ژبې دوه ش (ښ او ش) په صوت کښې هم يو شان شريك دي )، دغه رنګه په صوتي ادائيګي کښې د انګرېزي ژبه د حرف 'ج' مخصوص ادائيګي ئې په يوسف زیٓ لهجه کښې، او د فرانسي ژبې د حرف 'ژ' ادائيګي په خټك قندهاري لهجه کښې په هر صورت سره ورته والے لري لکه : په انګرېزي کښې اېجنسي، پروجېکټ، رپورټنګ، سټراټيجي او ځنې نور په فرانسي کښې په اژانس، پروژه، رپورتاژ، ستراتېژي اوړي. بعينٰهه دغه د 'ج' حرف په يوسفزیٓ لهجه کښې داسې اوړي لکه: جبه، جوند، جواك، جرنده، جَور او ځيني نور. بيا د دغو توريو اوښتون په خټك قندهاري کښې دغسې ده لکه: ژبه، ژوند، ژواك او ژرنده.

خو په لنډه توګه که ووائيو چې پښتو د خپلو ګاونډيو ژبو په مقابل کښې د حروفِ هجا او اصواتو پراخه ادانيه لري او د نړیٓ د يو شمېر نورو ژبوهر نمونه صوت ادائيګي ته د خپل اختيار کړي هجا په نظام کښې غوره طريقه کار لري.

# حوالي


[١] سهيل، بُخاري ډاکټر، ''اُردو زبان کا صوتے تظام اور تقابلی مطالعه''، اِسلام آباد، مُقتدره قومی زبان، 99ء، م- 7

[٢] دغه بره،'' اُردو رسمُ الخط کښې بنيادی مُباحث''، دغه-----، طبع اول، 1988، م- 15

[٣] دغه بره، م م – 11- 10

[٤] فرمان فتح پوري، ډاکټر، '' اُردو زبان وادب ''، لاهور، الوقار پبلی کښېشنز، 2005ء، م- 62

[٥] دغه بره، '' اُردو املا اور رسمُ الخط (اُصول و مسائل)''، دغه بره ---، 2004ء، م – 12

[٦] غلام رسول، '' اِملا کښې قاعدې''، مشمولا: اُردو اِملا اور رموز اوقاف، مُرتب: گوهرنوشاهي، اِسلام اباد، مقتدره قومیی زبان، م- 73

[٧] غلام مُصطفی خان، ډاکټر، ''اُردو اِملا کی تاریخ''، مشمولا: اُردو اِملا و رموز او قاف، مُرتب، گوهرنوشاهي، م- 13

[٨] به حواله: ''خېراللُغات''،از، پادري خېرالله نوښاري، علامه عبد الشکور رشاد، د خېراُلبیان لیك دود، مشموله: خېرالبیان، کابل، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، 1353هـ، م م – 62- 61

[٩] به حواله: ''خېرالله الُلغات''، از پادري خېرالله نوښاري، عبدالکریم بریالے، د پښتو لیك دود، کوئټه، پښتو اِکښېډمي، 2000ء، م- 68

[١٠] پیرروښان، ''خېرالبیان''، مُرتب: حافظ عبدالقوس قاسمي، پېښور، پښتو اِکښېډمي، پېښوریونیورسټي، طبع دوم، 1988ء، م – 2

[١١] دغه بره، م م – 134 – 133

[١٢] ''خېرالبیان''، مرتبه: علامه رشاد، م – 77

[١٣] دغه بره، م م – 66 – 65

[١٤] خالد خټك، ډاکټر، ''سندهي پښتو اور اُردو کښې لساني روابط ''، پېښور، پښتو اکښېډمي، 2007ء، م- 128

[١٥] سُهیل بُخاري، ډاکټر، '' اُردو اِملا کښې مسائل''، مشموله: اِملا و رموز و اوقاف کښې مسائل، مرُتب، اِعجاز راهي، اِسلام اباد، مُقتدره قومي زبان، 1985ء، م – 208

[١٦] سیدعظیم شاه خیال بُخاري، ډاکټر، '' اتالیقِ پښتو''، پښېور، 24 دي مال روډ، طبع دور، 1984ء، م- 24

[١٧] ''د پښتو نوې اِملا''، مُرتب، ډاکټرراج ولي شاه خټك، پېښور، پښتو اِکښېډمي، پېښورپوهنتون، 1991ء، م م – 13- 12

[١٨] پالوال، عبدالرزاق، ډاکټر، ''معیاري پښتو''، کوئټه، خپرندوئ په خپله لیکوال، 1384 لمریز کال، م م – 98 – 97

[۱۹] غلام رسول، ’’ اِملا کښې قاعدې‘‘، مشموله: اُردو اِملا رموزو اوقاف، مُرتب، گوهرنوشاهي، م- 76

[۲۰] نسيم امروهي، ’’اُردو لُغت بورډ کښې اِملائي و اِعرابي اُصول‘‘، مشموله، اُردو اِملا و رموز اوقاف، مُرتب، گوهر نوشاهي، م- 325

[۲۱] خليل صديقي، پروفېسر، ا’’ ُردو اِملائي نظام‘‘، مشموله، اِملا و رموز اوقاف کښې مسائل، م- 139

[۲۲] محمدالياس برني، ’’ اُردو هندي رسمُ الخط‘‘، مشموله، اُردو زبان اور رسمُ الخط، ترتيب و تدوين فتح محمد ملك، اِسلام ابدا، مقتدره قومي زبان، 2008ء، م- 260